Pashto translation of the Chair's video message to the Afghan Families (updated Dec 2025)

**د څېړنې د پلاوي نوې خبرتیا – د نومبر ۲۰۲۵**

د تېرو شپږو میاشتو راهیسې، د څېړنې پلاوي ونه شوای کولای چې شواهد او نور مواد په خپله وېبپاڼه خپاره کړي.
دا ځکه چې د دفاع وزارت غوښتنه کړې وه چې د ټولو هغو شواهدو او موادو خپرول بند شي، تر هغه چې دې نیونې د عملیاتو د شاهدانو ټولې ویناوې په ۲۰۲۶ کال کې بشپړې نه شي.

طبعاً زه د دوی دا اندېښنه شریکوم چې هېڅ داسې څه باید خپاره نه شي چې زما د هویت پټ ساتنې د امر خلاف وي، خو زه دا هم خپل مسؤلیت ګڼم چې عام ولس د دې څېړنې د کار په اړه خبر وساتم.

ما د ټولو اړخونو لیکلي نظرونه او وړاندې شوي مواد په ډېر دقت سره وکتل.

ما اوس پرېکړه وکړه او ما د دفاع وزارت غوښتنه رد کړه، ځکه زه پوره ډاډمن یم چې هغه اندېښنې چې وزارت څرګندې کړې وې، مخکې له مخې د څېړنې د پلاوي او د دفاع وزارت د ټیمونو له خوا د لنډیز او سانسور په بهیر کې په سمه توګه په پام کې نیول کېږي.

ما امر کړی چې د څېړنې د اسنادو، شواهدو او لنډیز شویو راپورونو خپرول دې ژر تر ژره بېرته پیل شي.

زه تاسو ته ډاډ درکوم چې دا څېړنه ډېره فعاله پاتې شوې او د پام وړ پرمختګ یې کړی دی.

نور جزئیات د تازه راپور په بڼه زموږ په وېبپاڼه کې شته.

زه به یو ځلې بیا تاسو ته دا یادونه وکړم چې دا څېړنه د څه لپاره ده او د څه لپاره نه ده.

هغه تورونه چې د دفاع وزیر د څېړنې لپاره راکړي دي – او زه بیا ټینګار کوم، دا تر اوسه یوازې تورونه دي – هغه دا دي چې:
ایا داسې باوري معلومات شته چې د برتانیې ځانګړو ځواکونو د ۲۰۱۰ د کال له منځ څخه تر د ۲۰۱۳ د کال تر منځ پورې، د نیونې د عملیاتو پر مهال، افغاني نارینه عمداً وژلي وي، او دا چې که دا کړنې پټې ساتل شوې وې؟

دا څېړنه د جګړې د ګډوډۍ او پېچلتیاوو په اړه نه ده. او نه هم د جګړې شیبو د پرېکړو په اړه ده.
زه غواړم درې مهم ټکي واضح کړم، ځکه چې په وروستیو میاشتو کې د رسنیو او نورو خبرو اترو له لارې ځینې مسئلې یا له پامه غورځول شوې دي، یا ناسم تعبیر شوې دي:

لومړی: دا تورونه په اصل کې د برتانیې د ځانګړو ځواکونو خپلو سرتېرو له خوا راپور شوي وو، او له خپلو نورو ملګرو سره یې شریک کړي وو.
همدا خبره یوه مهمه وجه وه چې دا عامه څېړنه پیل شوه، تر څو ټولې ادعاوې په پوره ډول وڅېړل شي.
د ځانګړو ځواکونو د شکایتونو شواهد له اصلي ګډونوالو سره شریک شوي دي.
د څېړنې پلاوی به دا شواهد خپاره کړي، کله چې د څېړنې او دفاع وزارت ګډ ټیم دا ډاډ ترلاسه کړي چې هغه نسخې په سمه توګه سانسور شوې او تر څو د خلکو هویت او ملي امنیت خوندیپاتې شي.

دویم: دا څېړنه یوازې دا معلوموي چې ایا د بې محاکمې وژنو یا غیر قانوني وژنو په اړه باوري معلومات شته او که نه.

د قانون له مخې، یوه عامه قانوني څېړنه نشي کولای د جزایي یا مدني مسوولیت پرېکړه وکړي.
نو دا څېړنه جزایي تحقیق نه دی؛ دا یوازې د موجودو شواهدو ارزونه ده، ترڅو حقیقت روښانه شي.
د څېړنې د واکونو له مخې، دا امکان شته چې که اړتیا وي، موضوعات نورو ادارو ته د لا زیاتې څېړنې لپاره واستول شي.

زه په څرګنده ډول وایم، چې تر هغه مهاله به هيڅ ډول پايله نه وړاندې کوم، تر څو پورې چې ټول شواهد ونه ګورم او د ټولو اړخونو خبرې وانه ورم.

دریم: زه ټینګار کوم – لکه څنګه چې د پوځ لوړپوړو مشرانو هم ویلي – دا څېړنه باید په پوره دقت او صداقت ترسره شي، څو دا څرګنده شي چې آیا په دې تورونو کې ربښتیا شته او که نه.

د دې تورونو نامعلوم پاتې کېدل نه د برتانيې عامه ګټو ته ګټه رسوي، نه د هغو افغاني کورنیوته چې د دغو پېښو قربانیان دي.
برعکس، دا د برتانيې د ځانګړو ځواکونو پر باور او د هغوی پر مهم کار سیوری اچوي یا منفي اخیزه کوي.

زه دا هم منم چې دا څېړنه به د هغو کسانو لپاره چې موږ ترې شواهد غواړو، ستونزمنه او د فشار وړ تجربه وي.
خو د څېړنې دقيق او محتاط بهیر د کومې ځانګړې پایلې لپاره نه، بلکې د حقیقت موندلو لپاره ترسره کېږي، څو نورې اوازې، شکونه او ناسمې کیسې بيا د کلونو وروسته راپورته نشي.

تر اوسه هم دا ډېره مهمه ده چې که هر څوک کوم شواهد یا معلومات لري چې زما سره مرسته کولی شي، باید راوړاندې شئ.

تاسو کولای شی دا کار مستقیماً او په محرم ډول د څېړنې له دفتر سره، او یا د دفاع وزارت سره اړیکه نېولو له لارې ترسره کړئ.
د خوندي تماس تفصیلات زموږ په وېبپاڼه کې موندل کېږي.

مننه.

Video Message (Pashto Translation)

د افغانستان د خپلواکې څېړنې د پلاوي له خوا د معلوماتو غوښتنې ویډیو پیغام

زما نوم لارډ جسټس (چارلز) هېډن-کېو دی، او زه د د افغانستان اړوند خپلواکې څېړنې د پلاوي مشر یم.
زما دا څېړنه له یو څه مودې راهیسې روانه ده، او زه دا پیغام درلېږم څو تاسو ته ووایم چې که څه هم موږ ډېرې علنې اوریدنې نه شوای کولای، زه لا هم پوره عزم لرم چې ربښتیا معلوم کړم او د دې ادعاوو په اړه حقیقت را څرګند کړم.
سږ کال مو ډېر کار کړی، او د څو ورځو اوریدنې مو ترسره کړي دي.

ما تازه یو تفصیلي راپور زموږ په وېبپاڼه خپور کړی، چې په دري او پښتو ژبو ژباړل شوی دی. زه ژمن یم چې راتلونکې مهمې اسناد او تازه معلومات به هم په پښتو او دري ژبو درسره شریک کړم، تر څو تاسو وکولای شئ د څېړنې پرمختګ په ښه ډول تعقیب او درک کړئ.

زما دا څېړنه د برتانيې ځانګړو ځواکونو د عملیاتو (یوازې د برتانيې د ځانګړو ځواکونو) د ۲۰۱۰ تر ۲۰۱۳ کلونو پورې د پېښو او عملیاتو ارزونه کوي.
کله چې موږ د "عملیاتو" یادونه کوو، مطلب يې هغه نظامي کړنې دي چې د برتانيې ځانګړو ځواکونو د افغانانو سره د تماس پر مهال ترسره کړې دي – لکه د نیونې ځانګړې عملیات، چې په هغو کې برتانوي ځواکونو د شپې مهال د خلکو د نیولو او پوښتنو لپاره عملیات ترسره کول.

زه پوهېږم چې ښايي له موږ سره اړیکه نیول به درته اسانه نه وي، خو که تاسو کومه بل مهم معلومات لرئ، او که د انټرنېټ ته لاسرسی ولرئ، نو زموږ په وېبپاڼه کې د تماس نیولو تفصیلات شته، چې په پښتو او دري ژبو ژباړل شوي دي.